شتمنۍ SHTAMANI
تأسیس: ۱۳۹۴ل ل
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی
د افغانستان اسلامي امارت
د مالیې وزارت


**د صدقې نه کولو زیان**

د حدیث شریف ژباړه: اسمآء رضي الله عنها وايي، چي نبي کريم ﷺ ماته وويل: بخل مه کوه (صدقه کوه) که نه الله پاک به پرتا د رزق برکت کم کړي. [رواه البخاري ــ ۱۴۱۵]

**نقصان صدقه ندادن**

ترجمه حدیث شریف: اسمآء رضي الله عنها می فرماید: نبی کریم ﷺ به من گفت: بخیل نباش (صدقه دهنده باش) که در غیر آن الله تعالی برکت رزق بر شما کم خواهد کرد. [رواه البخاري ــ ۱۴۱۵]

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)


جمادی الاول ۱۷ -۱۴۴۷ل س | د لړم ۱۷ -۱۴۰۴ل ل | د نومبر ۸-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۵۳ گڼه | ٤ مخیزه | ۱


# سرمقاله

## گمرکات در تلاش جلوگیری از مواد نفتی بی کیفیت

برای تأمین انرژی مطمئن و پایدار، لازم است که دولت و نهادهای مسئول، مکلف به اجرای کنترول کیفیت اجباری برای هر نوع مواد نفتی شوند. این کار نه تنها منافع ملی را تأمین می‌کند، بلکه سبب ارتقای شفافیت و اعتماد در بازار انرژی کشور خواهد شد. از انجای که مواد نفتی از منابع اساسی انرژی در کشور به شمار می‌روند و نقش حیاتی در حمل و نقل، صنعت، زراعت و تأمین برق دارند. اما ورود مواد نفتی بی‌کیفیت می‌تواند خسارات اقتصادی، زیست‌محیطی و فنی گسترده‌ای به همراه داشته باشد. از این رو، بررسی کیفیت هر محموله نفتی قبل از توزیع در بازار یک اقدام ضروری و پیشگیرانه است. در این راستا گمرکات کشور آزمایشگاه های تخصصی دارد هر محموله نفتی که وارد کشور میشود پیش از توزیع، در آزمایشگاه های مجهز که در گمرکات می باشد آزمایش می شوند. این آزمایش ها شامل بررسی درجه خلوص، ترکیب کیمیایی، میزان سلفور، نقطه اشتعال و سایر پارا مترهای فنی می باشد. فواید این نظارت جلوگیری از ورود تیل تقلبی یا آلوده، حفاظت از وسایل نقلیه، ماشین آلات و محیط زیست، افزایش اعتماد مصرف کنندگان و ایجاد رقابت سالم در بازار، کاهش هزینه بلند مدت ناشی از آسیب های فنی و تخنیکی می باشد. در صورت عدم بررسی کیفی نتایج منفی را به بار می آورد مانند افزایش مصرف سوخت، خرابی موترها، آلودگی هوا، فساد در بازار و نارضایتی مردم در پی خواهد داشت. این نارضایتی باعث می شود که بر اقتصاد ملی تاثیر منفی بگذارد. گمرکات کشور در تلاش اند تا از واردات مواد نفتی بی‌کیفیت جلوگیری نماید و زمینه واردات مواد باکیفیت و مطابق با معیارهای بین‌المللی را فراهم سازند، تا بتواند رضایت مردم را در این راستا بدست آورد.

**با احترام**

**اداره**

# د مېزان په میاشت کې د هیواد له گمرکونو څخه (٦٣) ټانکره بې کیفیته نفتي مواد مسترد سوي دي




د مالیې وزارت د نفتي موادو د کیفیت او څارني ریاست، چې د ټاکل سویو معیارونو له مخې هیواد ته د واردېدونکو نفتي موادو کیفیت معلوموي، د روان (۱۴۰۴ هـ.ل) کال د مېزان (تلې) په میاشت کې ئې د هیواد له یو شمېر گمرکونو څخه (٦٣) ټانکره واردېدونکي بې کیفیته نفتي مواد بېرته گرځولي دي. د مسترد سویو نفتي موادو له جملې (۳۷) ټانکره ډیزل او (۱۳) ټانکره پیټرول له نیمروز بندر څخه، (۴) ټانکره ډیزل او (۲) ټانکره پیټرول له حیرتان بندر څخه، (۲) ټانکره ډیزل او (۲) ټانکره پیټرول له فراه بندر څخه او (۳) ټانکره پیټرول له شېرخان بندر څخه بیرته گرځول سوي دي. د یادولو ده، چې د مالیې وزارت د نفتي موادو د کیفیت او څارني ریاست د ټاکل سویو معیارونو له مخې، هیواد ته د لوړ کیفیت او معیاري نفتي موادو د را واردولو زمینه برابروي او په کلکه د بې کیفته نفتي موادو د را وارډېدو مخنیوی کوي.

# د تعرفې کمېټې د یو شمېر توکو د تعرفو په تړاو مهمي پرېکړي وکړې

د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند په مشرۍ د کرنې اوبو لگولو او مالدارۍ وزیر او د صنعت او سوداگرۍ، د کانونو او پیټرولیم، اقتصاد او عامې روغتیا وزارتونو د مرستیالانو او استازو، د استخباراتو لوی ریاست، د معیار او کیفیت ملي ادارې (پخوا د سټنډرډ ملي اداره)، د کانونو او صنایعو، سوداگرۍ او پانگونې او د کرنې او مالدارۍ خونو د مسئولینو په گډون د تعرفې کمېټې د روان (۱۴۰۴هـ.ل) کال پنځمه ناسته وسوه. په دې ناسته کې له هر اړخیزو بحثونو وروسته، د کورني صنعت او تولیداتو د ملاتړ، کرني او سوداگرۍ د ودې اصل ته په کتو لاندې پرېکړې وسوې، چې د تعرفې له اصولو سره سم به پلي سي.

| شمېره | د توکي نوم | د گمرکي وارداتي تعرفې مخکینۍ فیصدي | اوسنۍ ټاکل سوې تعرفه |
|---|---|---|---|
| ۱ | شهد (گبین) | ٪۲۰ | ٪۳۰ |
| ۲ | کارټن | ٪۳۰ | ٪۵۰ |
| ۳ | قطۍ | ٪۴۰ | ٪۷۰ |
| ۴ | پریفارم | ٪۱۲ | ٪۱٦ |
| ۵ | لوکو پلستر | ٪۲،۵ | ٪۳،۵ |
| ٦ | د ډبرو سکاره | ٪۱۲ | ٪۳۰ |

| شمېره | توکي | موسمي | | غیر موسمي | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | پخوانۍ | اوسنۍ | پخوانۍ | اوسنۍ |
| ۷ | رومي بانجان | ٪۴۰ | ٪۴۰ | ٪۲۰ | ٪۲۵ |
| ۸ | تور بانجان | ٪۴۰ | ٪۴۰ | ٪۲۰ | ٪۲۵ |
| ۹ | پیاز | ٪۴۰ | ٪۴۰ | ٪۲۰ | ٪۲۵ |
| ۱۰ | بادرنگ | ۰ | ۰ | ٪٦۰ | ٪۸۰ |
| ۱۱ | هندوانه | ٪٦۰ | ٪٦۰ | ٪۴۰ | ٪٦۰ |
| ۱۲ | خټکي | ٪۸۰ | ٪٦۰ | ٪۸۰ | ٪٦۰ |
| ۱۳ | کدو او کدوگک | ٪۳۰ | ٪٦۰ | ٪۲۵ | ٪٦۰ |
| ١٤ | گازري او شلغم | ٪۳۰ | ٪٦۰ | ٪۲۵ | ٪٦۰ |
| ۱۵ | ممپلي | ٪۲۰ | ٪۲۰ | ٪۲،۵ | ٪۲۰ |
| ۱٦ | بادام | ۰ | ۰ | ٪۲۵ | ٪۳۰ |

همداشان د سپورټي توکو، د یو ورځنیو چرگوړو، جنراټور او جنراټور سیټ د تعرفوي کوډونو پر یو شانوالي هم پرېکړهوسوه.

# د افغانستان او ایران ترمنځ د اقتصادي همکاریو د گډ کمېسیون د تفاهم لیک پر مسوده بحث وسو

د افغانستان اسلامي امارت او د ایران اسلامي جمهوریت ترمنځ د اقتصادي همکاریو د گډ کمېسیون د غونډې له پاره د چمتووالي ناسته، د مالیې وزارت د پالیسۍ معین انجنیر سلطان محمد زبیر په مشرۍ د وزارتونو او امارتي ادارو د رئیسانو او باصلاحیته استازو په گډون د مالیې وزارت خیبرهال د کنفرانسونو په تالار کې وسوه. په دې غونډه کې د دوه اړخیزو اقتصادي همکاریو او بین الوزارتي همغږۍ د پیاوړتیا په موخه، د گډ اقتصادي کمېسیون د پخوانیو هوکړو پر لاسته راوړنو او پلي کولو بیاکتنه وسوه او د دې کمېسیون د راتلونکي غونډې له پاره د هوکړه لیکونو د مسودې د نهایي کولو په اړه بحثونه او خبري وسوې. همدارنگه گډونوالو د مالیې وزارت له لارې په راتلونکي کې له ایراني لوري سره پر اړینې همغږۍ او تخنیکي بحثونو باندي ټینگار وکړ.



د مالیې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (۱۵) شکایتونو ته رسېدنه کړې ده

ص ۲



په تېرو دوو اوونیو کې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې یوه اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

ص ۲




د ظاهر شاهي سوداگریز مارکېټ جوړولو د داوطلبۍ پرانیستونکې ناسته وسوه

ص ۲



جلسه نوبتی هیئت ریاست دعوت و ارشاد برگزار گردید

ص ۲



راه کارهای پیشنهادی برای باز سازی و توسعه اقتصادی افغانستان

ص ۳



اُزبکستان له افغانستان سره د انرژۍ ملگرتیا پیاوړې کړې ده

ص ٤

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

## په تېرو دوو اوونیو کې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې یوه اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي



د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده څارني کارکوونکو په تېرو دوو اوونیو کې د کندهار، فراه او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې یوه اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له گمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نیول سویو توکو کې (۱۱۱۴۷) کیلو گرامه انساني طبي درمل، (۹۴۰) کیلو گرامه اچار، (۹۲۲۵) کیلو گرامه خرما، (۷۷۵) کیلو گرامه وچې شیدې، (۲٦٦) کیلو گرامه گوړه، (۲۱۰۰) دانې چارجي قیلونونه شامل دي. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي. د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت د گرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کې گرځنده څارنه کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## جلسه نوبتی هیئت ریاست دعوت و ارشاد برگزار گردید



جلسه نوبتی هیئت ریاست دعوت و ارشاد به رهبری معین اداری وزارت مالیه مولوی دوست محمد مخلص و با اشتراک رئیس عمومی دفتر، رئیس دعوت و ارشاد، رئیس امور کارکنان و مدرس دعوت و ارشاد در تالار میعنیت متذکره دایر گردید. در این نشست علاوه بر بحث روی تطبیق تصامیم نشست قبلی در مورد تطبیق قانون امر به معروف و نهی از منکر، حکم امیرالمؤمنین (حفظه الله)، مسئولیت محتسب در قبال تاجران، کسبگران و دهاقین، سیرت و صورت کارمندان و برخورد نیک با مراجعین و دیگر مسائل مهم، بحث همه جانبه صورت گرفته و تصامیم لازم اتخاذ گردید. قابل ذکر است که این جلسه هیئت ریاست دعوت و ارشاد به رهبری معین اداری وزارت مالیه، به هدف تأثیرگذاری مثبت و تغییر بیشتر در امور برگزار می‌شود و این سلسله در آینده نیز ادامه خواهد داشت.

## د مالیې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (۱۵) شکایتونو ته رسېدنه کړې ده

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی ریاست د شکایتونو اورېدو آمریت د دغه وزارت اړوند ټولو شکایتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډوني او د یو شمېر مسئولینو ناسم چلند ته د رسېدني مسئولیت په غاړه لري او ترلاسه سویو شکایتونو ته له ځنډ پرته رسېدنه کوي. دغه آمریت د روان (۱۴۰۴) کال تلې (مېزان) میاشتې له پیل څخه تر پایه پوري (۱۹) شکایتونه ترلاسه کړي او اورېدلي دي، چې له دې جملې څخه (۱۵) شکایتونو ته رسېدنه سوې او (۴) نور شکایتونه د کافي معلوماتو او شاکي له لوري د اثباتیه اسنادو د نشتون له امله ناقص گڼل سوي دي. له دې جملې (۱۲) شکایتونه د وټس آپ له لاري،



(٦) شکایتونه په حضوري بڼه او (۱) شکایت د برېښنالیک له لاري له دې آمریت سره شریک سوی دئ، چې یاد شکایتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې په برخو کې ول، چې د دغه آمریت له لوري پر وخت رسېدنه ورته سوې ده. د یادوني وړ ده، چې ټول هیوادوال کولای سي، چې د مالیې وزارت د بېلابېلو څانگو په څانگړې توگه د عوایدي سرچینو او د گومارني په برخه کې د اصلاحاتو په تړاو خپل شکایتونه، وړاندیزونه او نظریات د برېښنالیک، وټس آپ، ټلیفون، په حضوري بڼه او د شکایتونو د صندوق له لاري له دغه آمریت سره شریک کړي، چې د شکایتونو د اورېدو آمریت به له طبقه بندۍ وروسته دغو شکایتونو ته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰

وټس آپ نمبر: ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦

برېښنالیک: Officialcomplaints@mof.gov.af

## د ظاهر شاهي سوداگریز مارکېټ جوړولو د داوطلبۍ پرانیستونکې ناسته وسوه

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست د کابل ښار لومړۍ ناحیې منډوی په سیمه کې د ظاهر شاهي سوداگریز مارکېټ د جوړولو پروژې د داوطلبۍ پرانیستونکې ناسته د دغه وزارت خیبرهال د کنفرانس په تالار کې د څو داوطلبو شرکتونو په حضور کې وکړه. په دې ناسته کې هغو شرکتونو، چې د هیواد په پرمختگ او اقتصادي وده کې د پانگونې غوښتونکي ول، گډون کړی وو او پیشنهادي پلانونه ئې وړاندي کړل. دغه مارکېټ به د (۲) ځمکتلونو په لرلو سره په (۸) پوړونو کې جوړ سي. د ملکیت ټول مساحت ئې (۲۰۱۷) متره مربع دئ، چې (۷۵) سلنه سیمه ئې د مارکېټ د جوړولو او (۲۵) سلنه ئې د زرغونې سیمې په توگه کارول کېږي. د دې پروژې په پلي کولو سره به نه یوازې پرمختگ رامنځته کېږي؛ بلکې ډېرو هیوادوالو ته به کاري فرصتونه هم رامنځته سي. د یادوني وړ ده، چې وړاندیز سوي طرحې، د تحلیل او ارزوني کمېټې له خوا له ارزوني وروسته د وروستۍ پرېکړې او د گټونکې شرکت د اعلان په موخه د ریاست الوزراء اقتصادی معاونیت ته وړاندي کېږي.





## جلسه آفر گشایی پروژه ساخت مرکز تجارتی محمد ابن القاسم واقع سمت شمال مستوفیت - ناحیه سوم ولایت جوزجان

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه جلسه آفرگشایی پروژه ساخت مرکز تجارتی محمد ابن القاسم واقع سمت شمال مستوفیت - ناحیه سوم ولایت جوزجان را با حضور داشت چند شرکت داوطلب در سالون کنفرانس های خیبر وزارت مالیه دایر نمود. در این جلسه شرکت های که خواهان سرمایه گذاری و سهیم شدن در آبادانی کشور و رشد اقتصادی بودند،



اشتراک و طرح های پیشنهادی خود را ارائه نمودند. مساحت کلی جایداد مذکور (۱۲۵۴) متر مربع بوده که با اجرای این پروژه نه تنها آبادانی صورت می گیرد بلکه برای کثیری از هموطنان زمینه کار فراهم می شود. گفتنی است که طرح های پیشنهادی بعد از بررسی توسط کمیته تحلیل و ارزیابی به معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء جهت تصمیم گیری نهایی و اعلام شرکت برنده ارائه می گردد.

## د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د دیني درسونو پایلي اعلان سوې

د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د دیني درسونو د ازمویني پایلي د یو لړ مراسمو په ترڅ کې اعلان کړې. په دې مراسمو کې د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند، د مالیې وزارت اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د امر بالمعروف نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارت د پالیسۍ او مسلکي معین شیخ الحدیث نور محمد حقاني، د امربالمعروف نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارت د دعوت او ارشاد د چارو د همغږۍ لوی رئیس مولوي شریف الله حقاني، د دعوت او ارشاد رئیس مولوي عبدالهادي سیف الخالد او د مالیې وزارت یو شمېر مسئولینو گډون کړی وو. د مالیې وزیر په خپله وینا کې وویل، چې په کلکه دیني لارښووني پلي کړئ او خپلي خبري او کړني په داسي ډول تنظیم کړئ، چې ځان او ټولني ته گټه ورسوي. خپل واک او صلاحیت یوازي د خلکو د خدمت له پاره وکاروئ او له هغوی سره په شفقت او مهرباني چلند وکړئ. نیت مو یوازي د خدای(ج) رضا او د خلکو خدمت کول وي. که زموږ د کار او فعالیتونو موخه یوازي د خدای رضا او د نورو خدمت کول وي، موږ کولای سو د زړه سکون او رضایت ترلاسه کړو. د امر بالمعروف نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارات د پالیسۍ او مسلکي معین په خپلو خبرو کې وویل، چې خدای(ج) تعالی خامخا له هغو کسانو سره مرسته کوي، چې د هغه د دین ملاتړ کوي او د حق په لاره کې د مظلومانو د دفاع هڅه کوي. د دې یوه ځرگنده بېلگه اوسنی اسلامي نظام دئ، چې زموږ په گران هیواد کې حاکم سو. موږ هغه څه چې درلودل د خدای(ج) د دین او د هغه د حاکمیت له پاره قرباني کړل. له همدې امله، دا اړینه ده، چې موږ الهي قوانین پلي کړو او په هره ممکنه لاره د دې اسلامي نظام ملاتړ وکړو. د دعوت او ارشاد د چارو د همغږۍ رئیس په خپلو خبرو کې وویل، چې په هر وزارت او خپلواکه امارتي اداره کې د دعوت او ارشاد ریاست د جوړولو موخه د کارکوونکو ترمنځ دیني تشه ډکه کول دي، داسي نه چې خدای(ج) مه کړه دوی په دنیا کې غرق سي او خدای(ج) او آخرت هېر کړي. د کارکوونکو له پاره دا اړینه ده، چې خپل نیت، اخلاق، فکرونه او عقیدې اصلاح کړي. هغه له کارکوونکو څخه وغوښتل، چې د اسلامي امارت د استازو په توگه له مراجعینو سره ښه چلند وکړي او د هغوی د ستونزو د حل له پاره خپله هڅه وکړي. په پای کې هغو کسانو ته چې لوړي نمرې ئې ترلاسه کړي وې، ستاینلیکونه ورکړل سول او مراسم د خیر دعایې په ویلو سره پای ته ورسېدل.

## د کابل ولایت نړیوال هوایي ډگر په گمرک کې د اورلگېدني مخه ونیول سوه

د مالیې وزارت د گمرکونو د ساتني او څانگړو عملیاتو تنفیذي قطعې د اور وژني زړورو سرتېرو د کابل ولایت د نړیوال هوایي ډگر گمرک ورودي دروازې ته څېرمه د برېښنا د شارټي له کبله رامنځته سوي اورلگېدني ته پر وخت رسېدنه وکړه او د ممکنه مالي زیان او خسارې مخنیوی ئې وکړ. د دغې قطعې د اور وژني او اور کنټرولولو ټیم د چټک غبرگون په وسیله د یوې ناوړه پېښې او مالي زیان مخنیوی وسو. د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت د گمرکونو د ساتني او څانگړو عملیاتو تنفیذي قطعه د ممنوعه گمرکي توکو د قاچاق او د گمرکي فساد د مخنیوي، د ملي عوایدو د ساتلو، د مالیې وزارت اړوندو بندرونو، سرحدي او محصولي گمرکونو، مرکزي او ولایتي مستوفیتونو د تاسیساتو د امنیت د ټینگښت او د ټولو کورنیو او بهرنیو سوداگرو د مالونو د ساتني په برخه کې فعالیت کوي.

SHTAMANI
شتمنی
اوونیزه



نویسنده: محمد رضا "صمدی"
کارشناس ارایه طرح های اقتصادی

# راه کارهای پیشنهادی برای باز سازی و توسعه اقتصادی افغانستان

ده ها سال جنگ ویرانگر استخباراتی و داخلی با پیامد های آن افغانستان را به کشوری مملو از چالش های سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی تبدیل کرده است. اگر به یک جمله خلاصه کنیم اینکه هیچ چیز سرجای خود قرار ندارد. با گذشت ده ها سال بعضی از این چالش ها امروز به مشکل تبدیل گردیده است و متأسفانه نیاز مند راه حل های بسیار طولانی مدت می باشند، یا اصلا راه حلی برای آن دیده نمی شود و یا گاها راه حل ها سیاسی و بیرونی بوده و خود به مرور زمان به چالش دیگر تبدیل گردیده است. صاحب نظران و قلم به دستان راه کارهای پیشنهادی گوناگون در مورد بازسازی و توسعه اقتصادی افغانستان ارایه نموده است. البته باید یاد آورشد که توسعه اقتصادی خود مبحث کلان است و بعید است در کشورهای نظیر افغانستان به زودی اتفاق بیفتد بنأ بهتر است به جای آن از عبارت رشد اقتصادی استفاده شود. نکته مهم که درمیان پیشنهادات و نظرات نویسندگان دیده می شود این است که اکثر این نظریات بر اساس یک مطالعه و تحقیق میدانی صورت نگرفته است و به این دلیل نمی توان ادعا کرد که این پیشنهادات می تواند واقعیت های افغانستان را انعکاس دهند.





اکثریت صاحب نظران بر این باور است که افغانستان کشور زراعتی است و بیشترین اشتغال زایی در بخش زراعت کشور است پس باید راه حل ما نیز برمبنای زراعت باشد. این نظر و راه حلی خوب است اما واقعیت افغانستان چیزی دیگری می گوید: از کل مساحت کشور فقط ۱۲٪ آن را زمین های زراعتی تشکیل می دهند و متأسفانه تغییرات اقلیمی در طی سه دهه اخیر زمین های قابل زرع افغانستان را به ٦٪ تقلیل داده است. در کنار آن حوادث طبیعی از سیلاب و خشکسالی را هم اگر محاسبه کنیم سخن زیادی برای گفتن در موضوع زراعت باقی نمی ماند. اگر بخواهیم زراعت سنتی خویش را مدرن کنیم نیازمند به سرمایه گذاری های هنگفت و چند بُعدی است و کمتر سرمایه گذاری حاضر می شود در این عرصه ریسک به خرچ دهند. عده ی دیگر بر روی معادن می کوبد که می تواند اقتصاد افغانستان را سرپا نگهدارد اما بخش معادن نیز نیازمند تکنولوژی، سرمایه و زیربنای سنگین است که ما هرسه آنرا در وضعیت فعلی از داخل کشور تأمین کرده نمی توانیم و نیازمند همکاری و سرمایه گذاری خارجی هستیم. برعلاوه روزی این معادن تمام می شود و باز اقتصاد ما ناپایدار و معلق می ماند. اگر تمام نظریات، پیشنهادات و راه حل های موجود را سبک و سنگین کنیم در عرصه تطبیق به مشکل بر می خورد و نمی تواند اقتصاد افغانستان را بازسازی کند و یا توسعه اقتصادی ما را رقم بزند. زراعت، معادن و آب و هوای افغانستان از مزایای عمده این کشور به حساب می روند اما متاسفانه به دلیل تغییرات اقلیمی و کمبود مهارت، تکنولوژی و سرمایه لازم هرسه این حوزه تحت تأثیر قرار گرفته و آن چنان که باید از آنها در جهت پیشرفت اقتصادی استفاده می شد، نمی شود. مشکل عمده ی که حداقل در این سه دهه اخیر با آن مواجه هستیم این است که افغانستان در اکثر مزایا و حتی در تمام مزایای خویش دارای ثبات نبوده و با چالش مواجه است. همین چالش ها هر روز دامنه فقر را گسترش می بخشند. جهت مثال آمارهای ملل متحد نشان می دهد که (۸۰) فیصد مردم افغانستان به آب آشامیدنی سالم دسترسی ندارد و این موضوع مشت از نمونه خروار این چالش ها را بیان می کند. این وضعیت کشوری است که خودش را یکی از منابع آبی منطقه و کشوری بالادست در حوزه آب می داند اما از مدیریت آب در آن سخنی کمتر در میان است. همین طور سایر حوزه ها مشکلات خاص خودش را دارد که نمی خواهیم در این مقاله سخن ما به درازا کشیده شود.

ادامه دارد...

# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاك امارتی وزارت مالیه دوکاکین ظاهر شاهی مارکیت مندوی کابل مربوط ناحیه اول شهر کابل را به طور جداگانه به شکل آفر سربسته به داوطلبی می سپارد، مدت سال (موقت)
۱.یك باب دوکان نمبر ٤٦ به مساحت٦,٦ مترمربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۹۰۰۰) افغانی.
۲. یك باب دوکان نمبر ٤۷ به مساحت ٦,٦ مترمربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۹۰۰۰) افغانی.مدت(۱) سال
۳.یك باب دوکان نمبر ۹ به مساحت ۷,۰۲ مترمربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۵۳۲۵) افغانی.
٤.یك باب دوکان نمبر۱۳٦ به مساحت ۱٤,٦مترمربع واقع ظاهرشاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۸۳۲٤۰) افغانی.
۵.یك باب دوکان نمبر۲۱ به مساحت(۷,۳۷) مترمربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۳۷۰۳) افغانی.
٦.یك باب دوکان نمبر ۱ به مساحت(٦,٤۸) مترمربع واقع ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٤٦۳۳۳) افغانی کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۵٦ ۳٤,۵۱۷۱
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکاکین فوق باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۳ /۱۴۰۴/۸ الی ۲٦/ ۸ /۱۴۰۴ به مدت (۱۴) روز به ریاست عمومی املاك امارتی واقع منزل چهارم تعمیر ۱٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله منزل۵ مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز، شماره تماس: ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤ | ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷، مجلس داوطلبی: ۲۷/ ۸/ ۱۴۰۴ به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار می گردد.

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاك امارتی وزارت مالیه دوکاکین ذیل واقع سمت جنوب دیوار نساجی بگرامی و دوکان نمبر ۹۸ نظیف مارکیت کوته سنگی را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد.
۱- دوکان نمبر A۹۸ به مساحت ٤۸ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ۵ شهر کابل، به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ۸۰۰۰ (هشت هزار) افغانی مدت مؤقت. کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,۵۱۵۲۷۲ ؛
۲- دوکان نمبر ۱۳ به مساحت ٤۱,۷۸ متر مربع واقع سمت جنوب دیوار نساجی بگرامی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل، به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ۱۰۰۰۰ (ده هزار) افغانی مدت دو سال؛
۳- دوکان نمبر ۵ به مساحت ۳۷,۱۲ متر مربع واقع سمت جنوب دیوار نساجی بگرامی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل، به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ۸۰۰۰ (هشت هزار) افغانی مدت دو سال؛
٤- دوکان نمبر ٦ به مساحت ۳۹,٤٤ متر مربع واقع سمت جنوب دیوار نساجی بگرامی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل، به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ۱۱۰۰۰ (یازده هزار) افغانی مدت دو سال؛
۵- دوکان نمبر ۱ به مساحت ۲۱,۱۲ متر مربع واقع سمت جنوب دیوار نساجی بگرامی مربوط ناحیه ۱٦ شهر کابل، به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ۸۰۰۰ (هشت هزار) افغانی مدت دو سال؛ کوردینات (جی پی اس نمبر) ٦۹,۲٤۷۲۵۵٤۹ ۳٤,۵۰۳۷۳۲٦٦
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکاکین فوق الذکر باشند، می توانند در خواست های شان را از تاریخ ۱۳عقرب ۱٤۰٤ الی ۲٦ عقرب ۱٤۰٤ به مدت (۱٤) روز، به ریاست عمومی املاك امارتی واقع منزل چهارم تعمیر ۱٤ منزله سینماپامیر تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قراردادهای مرکز، شماره های تماس (۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤)، مجلس داوطلبی بعد از ختم نشر اعلان(تاریخ ۲۷عقرب ۱٤۰٤) به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار می گردد.

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه تدارك (۲۹) دستگاه لابراتوار تست مواد نفتی مورد ضرورت ریاست کنترول و کیفیت دارای نمبر تشخیصه ۲۷۰۹-NCB/G/۱٤۰٤/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان دری وپشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود ادارات امارتی و طرزالعمل تدارکات اجراء می گردد بدست آرند.
تاریخ جلسه قبل از داوطلبی: ۲٦/ عقرب/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر
تاریخ مشخص آفرگشایی: ۰۵/ قوس/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر
آدرس: پشتونستان وات- وزارت مالیه- کابل- افغانستان
منزل و شماره اطاق: منزل دوم تعمیر معینیت اداری، شعبه آفرگشایی
تضمین آفر مبلغ: {٦۰۰,۰۰۰ شش صد هزار افغانی}بوده و صرف تضمین بانکی قابل قبول میباشد.
آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)،
ریاست محترم عمومی اداره امور ۱.۱.۱
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦.
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونيزه
زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

د امتياز څښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: عبدالقيوم نصير
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ويبسايټ: mof.gov.af
ایکسپاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)




# H. Mullah Naser Akhund Hosts 10 IEA-run Bodies as 'Committee' Hikes Tariffs



The fifth meeting of the 'Tariff Committee' of the current year 1404 (Afghan calendar), was held under the chairmanship of the Minister of Finance, Alhaj Mullah Mohammad Naser Akhund, and was attended by the Minister of Agriculture, Irrigation and Livestock (MAIL); the Deputy Ministers and representatives of the Ministries of Industry and Commerce (MoIC), Mines and Petroleum (MoMP), Economy (MoEc) and Public Health (MoPH); the General Directorate of Intelligence (GDoI), the National Administration of Standards and Quality (NASQ – formerly ANSA); the officials of the Chambers of Mines and Industries (ACIM), Commerce and Investment (ACCI), and Agriculture and Livestock (ACAL).

After comprehensive discussions in this meeting, decisions were made in accordance with the principles of supporting domestic industry and products, and the growth of agriculture and trade, which will be implemented in line with the set principles of the tariff.

| NO | Item | Previous Tariff | | New Tariff | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1. | Honey | 20% | | 30% | |
| 2. | Carton | 30% | | 50% | |
| 3. | Paperboard box/ Folding carton | 40% | | 70% | |
| 4. | Preform | 12% | | 16% | |
| 5. | Loco tape | 2.5% | | 3.5% | |
| 6. | Coal | 12% | | 30% | |
| NO | Item | Sessional | | Non-sessional | |
| | | Previous | New | Previous | New |
| 7. | Tomato | 40% | 40% | 20% | 25% |
| 8. | Eggplant | 40% | 40% | 20% | 25% |
| 9. | Onion | 40% | 40% | 20% | 25% |
| 10. | Cucumber | 0 | 0 | 60% | 80% |
| 11. | Watermelon | 60% | 60% | 40% | 60% |
| 12. | Melon | 80% | 60% | 80% | 60% |
| 13. | Pumpkin & Marrow | 30% | 60% | 25% | 60% |
| 14. | Carrot & Turnip | 30% | 60% | 25% | 60% |
| 15. | Groundnut/ goober/ monkey nut | 20% | 20% | 2.5% | 20% |
| 16. | Almond | 0 | 0 | 25% | 30% |

It was also decided to harmonize the tariff codes for sporting goods, day-old chicks, generators, and generator set.

# DM Zubair Discusses Draft MoU of 'Joint Economic Cooperation Commission' Between Afghanistan, Iran




The preparatory meeting for the meeting of the 'Joint Economic Cooperation Commission' between the IEA (Islamic Emirate of Afghanistan) and the Islamic Republic of Iran was held at the Khyber Conference Hall of MoF under the chairmanship of Engineer Sultan Mohammad Zubair, Deputy Minister of Policy of MoF, in the presence of Directors of ministries and IEA-run bodies, and authorized representatives. In this meeting, the achievements and implementation of previous agreements of the 'Joint Economic Commission' were reviewed. Members tabled discussions and information regarding the finalization of draft memorandums of understanding (MoU) for the next meeting of this commission, in order to strengthen bilateral economic cooperation and inter-ministerial coordination. The attendees also stressed the necessary coordination, and technical discussions with the Iranian side through the Ministry of Finance.




# اُزبکستان له افغانستان سره د انرژۍ ملګرتیا پیاوړې کړې ده

د جېمزټاون فاونډېشن ـ THE JAMESTOWN FOUNDATION په نوم امریکایي رسنۍ یو اقتصادي تحلیل خپور کړی دئ، چې په کښې د افغانستان او اُزبکستان اقتصادي مشارکت بیانېږي. تحلیل په لومړي سر کې د اکتوبر پر (٦)مه نېټه له افغانستان سره د اُزبکستان د (۱۰۰) میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د ۲۵ ـ کلن تړون لاسلیك یادونه کوي، چې په کلني ډول به ئې عاید سل میلیونه امریکایي ډالره وي ــ دا تړون د افغانستان د تېلو او ګازو سرچینې پلټې، پراختیا ور کوي او له لارې ئې اقتصادي همکارۍ پراختیا مومي. وایي د افغانستان د طوطي میدان ګازو ساحه شاوخوا (۳۰) څاه‌نونه/ څاه‌ګاني لري او استخراجي ګاز به په اُزبکستان کې پروسیس کېږي. وړپسې د دواړو هیوادونو د برېښنا تولید او اتصال له پاره له (۱,۱۵) بیلیونو/ میلیاړدو ډالرو څخه د زیاتو زېربنایي تړونو خبري هم راوړي. د افغانستان د انرژۍ په سیکټور کې د اُزبکستان مخ زیاتېدونکی رول د سیمه ییز ادغام، ثبات او د افغانستان له لاري سمندري بندرونو ته لاسرسی ستراتیژیکي اهداف اسانه کوي. تحلیل تر دې راوروسته له اُزبکستان څخه افغانستان ته د وارداتي برېښنا پر ډېروالي شنني ته دوام ور کوي، چې وایي افغانستان خپله برېښنا ٪(۸۰) له ګاونډیانو څخه واردوي. له اُزبکستان څخه وارداتي برېښنا له (۲۰۰۲)ز څخه پیل او اندازه وار په وار مخ پر لوړېدو سوه. لیکي، چې کابل د اُزبکستان د برېښنا د تر لاسه کولو له پاره خپل ۲ ـ کلن پور هم



تصفیه کړ او تاشکند ته ئې په (مې/ ۲۰۲٤)ز کې (۸٦,۹) میلیونه ډالر ور کړل. اقتصادي شننه زیاتوي، په اګسټ کې د اُزبکستان د انرژۍ وزارت او د افغانستان د برېښنا شرکت د (۲٤۳) میلیونو ډالرو په ارزښت (٤) قراردادونه لاسلیك کړل، تر څو د برېښنایي زېربنا پراخه او نوي فرعي ـ سټېشنونه جوړ کړي. وړپسې لیکي، چې په سېپټمبر کې اُزبکو د افغانستان د ملاتړ په موخه یو بل تړون ته ملا و تړله، چې په اساس به ئې (۲۲۰ ـ ۵۰۰)کیلو واټه لوړ وولټېج/ وولتاژ برېښنایي مزي او فرعي سټېشنونه په ټول افغانستان کې جوړ کړي. وړپسې د اسلامي امارت او روسیې د اړیکو د جوړتیا په هکله داسي بیان کوي: «روسیه لومړی هیواد سو، چې اسلامي امارت ئې په رسمیت و پېژندی ــ وایي مسکو هیله لري، چې په افغانستان کې یو مهم لوبغاړی سي؛ ترڅو په سوېلي او منځنۍ اسیا کې خپل نفوذ و ساتي. په دې اقتصادي تحلیل کې افغانستان ته د هغه پله خطاب سوی دئ، چې د منځنۍ او سوېلي اسیا تر منځ د اتصال حیثیت لري. شننه ټینګار کوي، چې افغانستان د دې وړتیا لري، چې په سیمه کې د ټرانسپورټ مرکز او د اُزبکستان له پاره لویو بازارونو ته د یوې ارزښتناکي لاري په بڼه ډګر ته راسي.




د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومي ستونزي حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه هميشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱

د شکايتونو اورېدلو آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندي ادرسونو له لاري شريک کړي.
ټليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af